مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شامجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۴/۲۵

موږ مینه ناک خلک

د خیـال په مـزو کې مې ستـا د مینـې رنـګ راځـي
چې سترګې پټې کړم غوږونو کې مې کړنـک راځـي

لاهــوتــي غــږ انـګازه کړي زمـا زړه روښـانـه
پـرتـه له زنـدې مــې ګوګل سـره په څـنـګ راځــي

کله په خـوب کـې یـمـه ناسته د بـابـر بـن کــې
کابل ته بـوي له پـاس پامـیـر لکـه لونـګ راځــي

د بــکـوا دښـتـه کې وه مـیـنـه د بـیـبـو او ښـادي
په هر قـدم او دم کیسه کـې د عشـق بـنـګ راځـي

د مینـتوب رنـګ دی رانغښتي په دې خــاوره کې
احمد ابدال، وزیر اکبر څـومـره په ننـګ راځــي

چــې ویـل:«تـاتـه راشم زړګـې زمـا فـارغ شـي»
له دې پیغام سره یې ښه د تورې شـرنـګ راځـي

وي له بهره په لـوي لاس طـوفـان پـر موږ راشـي
له لاچارۍ نه مو ولس پورته شي پـه جنګ راځـي

تـل ارامـي غـواړې زمـوږه مـینـه نـاک خـلـک
کـلـه پـه غـر کـلـه پـه سـمـه کـې پـه تـنـګ راځـي

چـې ولـولـې سـاتـې د مینـې پـټـې زړونـو کې
رابعه ګلـونه وړي فتح خان یې تـر څنګ راځي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ